مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۱۰/۱۴

# په کاروان د اتلانو مې مه شمېره

## غزل

په درشل د لېونیانو مې مه شمېره
د تېر وخت په عاشقانو مې مه شمېره

یقین وکړه، دواړه سترګې مې ړندې شوې
په محفل اوس د یارانو مې مه شمېره

د غلبیل په شان مې زړه سورې سورې دی
یم دردمند په خنداګانو مې مه شمېره

ننګ او نوم راسره نه ځي په یوه لاره
کرغېړن یم په بازانو مې مه شمېره

د امید لاس مې دی مات دا ځکه ژاړم
په کاروان د اتلانو مې مه شمېره

"پسرلیه"! خپلواکي له خدایه غواړه
د دې وخت په غلامانو مې مه شمېره



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com